# په پښتو ولسي شاعرۍ کې
# د تاریخي پېښو څېړنه

۱۲۱۸ - ۱۲۹۸ل

څېړنیار احسان الحق کبیر

په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاریخي پېښو څېړنه ۱۲۱۸ - ۱۲۹۸ل

څېړنیار احسان الحق کبیر

# A Study of historical events in pashto folk poetry
1839 - 1919

Junior Assistant Prof. Ehsanulhaq Kabir

2023

ISBN 978-9936-661-45-5
9 789936 661455

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشـري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت


# په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاریخي پېښو څېړنه

(۱۲۱۸- ۱۲۹۸ل)

**څېړنیار احسان الحق کبیر** **۱۴۰۲ هـ.ش**

# د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاريخي پېښو څېړنه (۱۲۱۸-۱۲۹۸ل)

**ليکوال:** څېړنيار احسان الحق کبير

**ايډيټور او مهتمم:** څېړندوی مطيع الله ساحل

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د ليکلو کال:** ۱۳۹۸هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۴۵هـ. ق (۱۴۰۲هـ.ش)

**چاپځای:** بهير مطبعه

ISBN: 978-9936-661-45-5

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لارښود استاد نظر ........................................ أ
سریزه ........................................ ۱


## لومړی څپرکی


**د موضوع شالید** ........................................ ۵


## دویم څپرکی

### د منظوم ولسي ادب لنډه پېژندنه


۱. د ولسي ادب لغوي او اصطلاحي پېژندنه ........................................ ۱۳
د ولسي ادب پېژندنه ........................................ ۱۷
۲. د پښتو ولسي ادب عمومي وېش ........................................ ۱۸
۳. پښتو منظوم ولسي ادب ........................................ ۲۱
الف) د منظوم ولسي ادب پېژندنه ........................................ ۲۲
ب) د منظوم ولسي ادب ډولونه ........................................ ۲۲
لنډۍ ........................................ ۲۳
غاړې ........................................ ۲۶
سروکي ........................................ ۲۹
نارې یا غبرونه ........................................ ۳۲
۲. خاص منظوم ولسي ادب ........................................ ۳۶
چاربیته ........................................ ۳۷
کسر ........................................ ٤۱

بدلې ........................................................................ ۴۳
لوبې........................................................................ ۴۴
بګتۍ ........................................................................ ۴۵
مقام ........................................................................ ۴۷
داستان........................................................................ ۴۸

## درېیم څپرکی

## په ولسي شاعرۍ کې د تاریخي پېښو اهمیت او ارزښت

۱. د تاریخي پېښو پېژندنه........................................................................ ۵۱
۲. د تاریخي پېښو ارزښت، اهمیت او پر ټولنه یې اغېزې ........................................ ۵۳
۳. په ادب کې د تاریخي پېښو ارزښت او اهمیت ........................................ ۵۸

## څلورم څپرکی

## په پښتو ولسي شاعرۍ کې تاریخي پېښې

۱. په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاریخي پېښو د بهیر څرنګوالي ته کتنه .......... ۶۵
۲. په ولسي شاعرۍ کې د افغان-انګلیس له لومړۍ جګړې څخه تر دویمې جګړې پورې ........ ۷۳
د دلاسه خان غزا........................................................................ ۷۳
د بونیر غزاګانې (د امبېلې جنګ) ........................................................................ ۷۶
د افغان- انګلیس دویمه جګړه ........................................................................ ۱۱۲
د میوند تاریخي پېښه........................................................................ ۱۴۷
الف) د تاریخي پېښو تحلیل ........................................................................ ۱۵۱
ب) پر ټولنه یې د اغېزو څېړنه ........................................................................ ۱۵۵
۳. په ولسي شاعرۍ کې د افغان-انګلیس له دویمې جګړې څخه د خپلواکۍ تر جګړې ........ ۱۵۸
د جندول د عمراخان غزا........................................................................ ۱۵۸

د چکدرې غزا ................................................. ۱۶۱
د سرتور فقير غزا .............................................. ۱۶۴
د هډې صاحب غزا .............................................. ۱۶۷
د تيرا غزا ..................................................... ۱۶۹
د وزيرستان جنګونه ............................................ ۱۷۰
د سهيلي پښتونخوا جنګونه .................................... ۱۷۱
د تيرا غزا (د ملتان زخه خېل جنګونه) ........................ ۱۷٤
د چکنور د ملا صاحب غزا ..................................... ۱۸۲
د ترنګزو د حاجي صاحب غزا ................................... ۱۹۲
د ملاکنډ په کلا د ملا احمد جان بريد .......................... ۱۹۶
د افغانستان د خپلواکۍ غزاګانې ................................ ۱۹۹
د ډکې غزا ..................................................... ۲۰۰
د ارناوۍ غزا .................................................. ۲۰۶
الف) د تاريخي پېښو تحليل ..................................... ۲۱۱
ب) پر ټولنه يې د اغېزو څېړنه .................................. ۲۱۶
**پايله** ........................................................ ۲۱۹
**وړانديزونه** ................................................. ۲۲۲
**مأخذونه** ..................................................... ۲۲۳

# د لارښود استاد نظر

په پښتو ولـسي شاعرۍ کې د تاريخي پېښو څېړنه له (۱۲۱۸- ۱۲۹۸ل) پورې د هغې څېړنيزې پروژې سـر ليک دی چې نومـاند څېړنيار احسـان الحق ته زما تر لارښوونې لاندې سپارل شوې وه.

دا څېړنه په ولسي ادب کې د افغانسـتان د تاريخ مهمې پېښې په بر کې نيسي چې د يوې نسبتاً لنډې تاريخي مقطعې څېړنه ده.

د دې پروژې لارښوونه دفاع ته په نږدې موده کې ماته را و سپارل شوه، ما تر زياتې اندازې هڅه وکړه چې په دې پروژه کې د لومړي لاس منابعو څخه گټه واخيستل شي او اړوند مسايل تر سپړنې او څېړنې لاندې و نيول شي، همدا شان د ولسـي ادب هغه نمـونې راوړل شـي چې تر دې وخته يې ځينې برخې نه وي تحليل شوي.

دغه پروژه په څلورو څپرکو کې بشپړه شوې ده؛ له لومړي څپرکي يا شاليد نه وروسته په دويم څپرکي کې د منظوم ولسي ادب لنډه پېژندنه تر سرليک لاندې د ولسي ادب لغوي او اصطلاحی پېژندنه، د پښتو ولسي ادب عمومي وېش، پښتو منظوم ولسي ادب پېژندنه، د منظوم ولسي ادب ډولونه او همدارنگه په عام او خاص ولسي ادب بحث شوی دی.

دريم څپرکی په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاريخي پېښو اهميت او ارزښت ته ځانگړی شوی، چې پکې په خپله د تاريخي پېښو ارزښت او اهميت او په ادب کې د تاريخي پېښو د ارزښت جاج اخيستل شوی دی.

څلورم څپرکی په پښتو ولسي شاعرۍ کې تاريخي پېښې تر مطالعې لاندې نيسي چې پکې د تاريخي پېښو د بهير څرنگوالی د افغان- انگليس له لومړۍ جگړې څخه تر دويمې جگړې پورې او له دويمې جگړې څخه تر خپلواکۍ پورې تاريخي پېښو انعکاس، د تاريخي پېښو تحليل، پر ټولنه يې د اغېزو څېړنه، تحليل او ارزونه شوې ده.

دا څېړنه د ټاکل شوو میتودونو په رڼا کې د پروژې د اوټلاین پر بنسټ په ژوره توګه پر علمي اسلوب څېړل شوې ده. د پروژې په ټولو پړاوو څېړکو کې مې احسان الحق ته مشورې او لارښوونې کړي دي. پروژه مې څېړکي په څېړکي کتلې او لازمې سمونې مې پکې کړي دي.

دې څېړنې سره په ولسي ادب کې د دیارلسمې هجري پېړۍ د وروستیو اتو لسیزو تاریخي پېښو سم او کره انځور تر لاسه شو، د تاریخ لیکنې لپاره غوره نتایج لاسته راغلل، کره منابع په نښه شوې او ښو وړاندیزونو ته لاره هواره شوه.

د نوماندۍ دغه پروژه د دې وړتیا لري چې څېړونکی یې پرې لوړې علمي رتبې ته ترفیع وکړي، دا پروژه د ټاکل شوو علمي موازینو سره سمه څېړل شوې، نو پر همدې اساس نوماند څېړنیار احسان الحق له نوماند څېړنیار علمي رتبې څخه د څېړنیارۍ علمي رتبې ته د ترفیع وړ دی، ده ته د نورو بریاوو دعا کوم.

**په درنښت**

**څېړندوی عبدالاحد منګل**

# سریزه

په پښتو کې شاعري په دوو برخو وېشل کېږي چې یوې برخې ته یې عروضي او دیواني شاعري وایي چې فورمونه او اوزان یې له نورو شرقي ژبو سره شریک دي، بله برخه یې بیا ولسي شاعري بولو، چې فورمونه، اوزان او هر څه یې په پښتو او پښتنو پورې اړه لري او د سر کړۍ یې پخوانیو اریایي سندرو ته رسېږي. دې برخې ته فولکلوري ادبیات هم وایي. پښتو ژبه له هغو ژبو څخه بللی شو، چې ډېر بډایه فولکلوري یا ولسي ادبیات لري چې د پښتنو د واقعي ژوندانه روښانه هنداره ده او موږ د پښتنو د ژوند هر څه په دې هنداره کې په ډېره روښانه توګه لیدلی شو.

په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاریخي پېښو یادونه ډېره اوږده سابقه لري چې د پښتنو د تاریخ ډېرې مهمې پېښې د ولسي شاعرانو له خوا په ولسي فورمونو کې ویل شوي دي، خو د ولسي ادبیاتو یوه ځانګړنه دا ده، چې لیکل کېږي نه، بلکې د بې سوادو خلکو له خوا ویل کېږي او د خلکو حافظو ته سپارل کېږي چې یو څه برخه یې را وروسته نسلونو ته پاتې او ډېره برخه یې هماغسې له هغو خلکو سره تر خاورو لاندې شوې ده. که ولسي شاعرۍ لیکلې بڼه لرلای، ډاډه یم، په نړیواله کچه به د پښتنو تاریخ روڼ او ځلانده وای، ځکه ولسي شاعران د پېښو په بیان کې د هیچا پروا نه ساتي او لکه څنګه چې پېښه شوې وي، په هماغه بڼه یې ولس ته بیانوي. د دربار مؤرخین داکار نه شي کولی، ځکه خو د شرق ډېر تاریخونه یوازې د پاچا او د پاچاهي کورنۍ په صفتونو ډک دي او پېښې یې هم د پاچا په خوښه او د دربار اوضاع ته په کتو سره را اخیستې وي، په دې توګه ډېر تاریخونه او تاریخي پېښې په تحریف شوې بڼه لیکل شوې دي.

په ولسي شاعري کې د تاريخي پېښو ځېړل يوه ارزښتمنه موضوع وه چې بايد کار پرې شوی وای، نو د پښتنو د ژوندانه د يوې مهمې برخې څېړلو لپاره مې دا موضوع ((په پښتو ولسي شاعرۍ کې د تاريخي پېښو څېړنه ۱۲۱۸- ۱۲۹۸ل)) د نوماندۍ دورې د رفع کولو لپاره واخيسته او په څلورو څپرکو کې چې په لومړي څپرکي کې د موضوع پر شاليد خبرې شوي، په دويم څپرکي کې د پښتو د ولسي شاعرۍ پېژندنه ده؛ چې کومې شاعرۍ ته موږ ولسي شاعري ويلای شو؟ کوم ډولونه لري؟ په پښتو ولسي شاعرۍ کې کوم فورمونه دود دي؟ او داسې نور، په درېيم څپرکي کې بيا د تاريخ، تاريخي پېښو، د تاريخي پېښو اهميت، ارزښت، پر ټولنه يې اغېزې او په ادبياتو کې د تاريخي پېښو پر اهميت باندې بحث شوی دی، په څلورم څپرکي کې د انگرېزانو له لومړۍ جگړې څخه نيولې بيا د خپلواکۍ تر جگړې پورې د تاريخي پېښو په اړه ويل شوي شعرونه را اخيستل شوي، تحليل او پر ټولنه يې اغېزې څرگندې شوي دي. په دې ځای کې د د خپل درانه استاد سرمحقق زلمي هېوادمل خبره کټ مټ رانقلوم چې وايي: «تحقيق حرف اخر نه دی»، نو ځکه زما دا کار به د راتلونکو څېړونکو لپاره د پراخو څېړنو زمينه برابره کړي او ما د ځينو نورو مجبوريتونو ترڅنگ د وخت د کمښت له امله همدومره وکولای شول. تمه ده چې په دې برخه کې مې پراخو څېړنو ته لاره پرانيستې وي.

**د موضوع هدف او مبرميت:** د دې څېړنې موخه دا ده، چې تاريخي پېښې له ولس نه واورو او پوه شو چې هغوی د دې پېښو په اړه څه نظر لري او دغو پېښو پر دوی څه اغېزې کړې دي، په دې سره زموږ مؤرخينو ته ډېر ثقه مواد په لاس ورځي.

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تر اوسه پورې په ولسي شاعرۍ کې د دې تاریخي دورې د پېښو په اړه کومه منظمه او اکاډمیکه څېړنه نه وه شوې، که څه هم د مقالو او ځینو خورو ورو لیکنو په بڼه په ځینو اثارو کې په ضمني ډول لنډې یادونې او څرګندونې شوې وې، خو په دې برخه کې یې ټولو پوښتنو ته ځواب نه شو ویلی.

**د څېړنې پوښتنې:** په دې څېړنه کې دې پوښتنو ته ځواب ویل شوی دی:

۱. په ولسي شاعرۍ کې په څومره کچه تاریخي پېښې بیان شوي دي؟

۲. په ولسي شاعرۍ کې تاریخي پېښې په څه ډول راوړل شوې دي؟

۳. په کومو فورمونو کې موږ تاریخي پېښې لرو؟

۴. په ادبیاتو کې د تاریخي پېښو یادونه پر ټولنه څومره اغېزې لري؟

**د څېړنې میتود:** د دې څېړنې په ترسره کولو کې له توضیحي- تشریحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی، کله- کله د ضرورت له مخې له تاریخي او انتقادي میتودونو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده. د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

په پای کې یوه یادونه اړینه بولم چې دا پروژه مې لومړی د څېړنوالې غوټۍ خاورې تر لارښوونې لاندې واخیسته، خو سږنی پسرلی د استادې د ژوند وروستی پسرلی شو او د تل لپاره یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، استادې د دې پروژې په اړه راسره ډېرې هلې ځلې وکړې، لازمې لارښوونې او منابع یې راته په ګوته کړې، چې نه یادول به یې ناانصافي وي. همدارنګه له ټولو هغو استادانو څخه چې د دې پروژې د بشپړونې په برخه کې یې راسره خپل نظرونه شریک کړي او کتابونه یې راباندې لورولي مننه کوم په ځانګړي ډول له اوسني لارښود استاد څېړندوی عبدالاحد منګل څخه چې

پروژه یې ټکي په ټکي وکتله او په دې برخه کې یې لازمې لارښوونې راته وکړې.

همدارنګه له څېړنپوه دوکتور سید محي‌الدین هاشمي، څېړنوال سید نظیم سیدي څخه هم مننه کوم، چې د موضوع اړوند مأخذونه او د پروژې په اړه یې خپل نظرونه راسره شریک کړل او له څېړنیار عزیزالله مبارز څخه هم مننه چې له پښتونخوا څخه یې کتابونه راته راوړل او د ژبو او ادبیاتو مرکز د ټولو قدرمنو استادانو د مینې او مننې پوروړی یم. د دې کتاب په ځینو لمنلیکونو کې به (هـ.ب) مخفف راځي چې «د پښتونخوا د شعر هار و بهار» کتاب لنډه بڼه به وي. په پای کې، که دکتاب په لوستلو کې له کومې نیمګړتیا سره مخامخ شوئ؛ نو هغه زما د نیمګړې توانمندۍ څخه وګڼئ او د نیمګړتیاوو په سمولو کې خپل نېک نظرونه راڅخه مه سپموئ او له ټولو درنو لوستونکو څخه مې هیله ده چې په خپلو سیمو کې، هغه ولسي شعرونه چې تاریخي پېښې په کې یادې شوي، کم مه ګڼئ؛ راټول یې کړئ او په راتلونکي کې به زموږ د تاریخ په لیکلو کې ارزښتمن مأخذ وي.